# Analysis of fiction-A critical and research based Published in "ulas Quetta"

# په اولس مجله کښې د کيسه ايز ادب برخه

Dr. Rehmatullah(Hafiz)*

**ABSTRECT**:

The"ulas Quetta" was a slandered literary journal of its time in which articles of prominent Pashto writer were published regularly. The publication of this official journal started in 1961. It was closed some time but continued to be published till11996. Durning this period, important material from various genres of fiction (drama, novel, short story etc) and Mythology were published in it. In this articl, the author has introduced and critically analyzed the said genre in detail with concrete and valuable finding. This is a highly valuable paper and the author's research effort will not only benefit readers of Pashto language and literature, but also open up new research angles\topic for future researchers too.

لکه څنګه چې په پښتو ادب کښې تحقيقي څېړنې ورځ په ورځ مخ په وړاندې روانې دي دغسې په داستاني ادب کښې هم نوې څېړنې او هم نوي کيسې ميدان ته راځي، څومره چې په تاريخي لحاظ شا ته ځو دومره کيسه ايز ادب هم نوي نوي رنګونه هم د موضوع له رويه او هم د هيئت له رويه نوي نوي رنګونه خپلوي او له دې نوو رنګونو سره د کيسو نومونه هم بدلېږي . که څه هم ځيني پوهان ټولو کيسو ته افسانې وايي خو چې مونږ په زړو او نوو ادبياتو کښې فرق کوو نو به ځينې کيسې د زاړه ادب برخه ګڼو او ځينې کيسې به د نوي ادب برخه بولو او افسانه د ناول او ډرامې تر څنګ په نوي کيسه ايز ادب کښې اهم او معروف صنف دی چې ځينې د کيسې پوهان ورته لنډه کيسه وايي . پخوانيو زړو کيسو ته اساطيري کيسې وئيل کېږي، چې کله کله ئې کردارونه دېبان، پېريانان، ښاپېرۍ او داسې نور څه وي، کله ئې کردارونه حيوانان او څلور بولي وي او کله ئې بيا کردارونه انسانان او نور څه جامد او غير جامد کردارونه وي . په اولس مجله کښې داسې ټولې کيسې شتون لري چې کردارونه ئې په پوره‌تنې ډول وي او تر دې له مخه چې د اولس مجلې کيسه ايز ادب څېړو نو غوره دا ده چې لږ د کيسه ايز ادب په اصنافو خبره وکړو او خصوصاً

* Lecturer, Government Post Graduate College Sariab Road, Quetta.

د موضوع له رویه د پوهانو نظر ستاسې مخې ته کښېږدم. ښاغلی څېړنوال دوست شینواری په دې اړه لیکي:

"خو د ایډیا او مضمون خصوصیت، د بدیعي ذریعو په کار اچول، د افادي ژبني وسایل د هیرو د چاپېریال، کړو وړو، کالیو او د ژوند د نورو اړخونو ترسیم او انتخاب او داسې نور مشخصات د یوه اولس افسانې د بل اولس له افسانو څخه د نورو فولکلوري اثارو په څېر جلا کوي. افسانه که څه هم د مضمون او محتوا له مخې په ډېرو اقسامو وېشل کېدے شي خو اساسي قسمونه ئې څلور دي. د ژویو کیسې، د جادو ګریو کیسې، د ماجرا لټوونکو اتلانو کیسې او فکاهي کیسې"(1).

په پورتنۍ حواله کښې چې کیسې ته افسانه وئیل شوې ده، له افسانې مطلق کیسه مراد ده، دوست شینواري له پورتنیو څلورو ډولونو پرته دا هم وئیلي دي چې ځینې پوهان کیسې په دریو ډولونو وېشي، اسطوره، اولسي افسانه او مرموزه افسانه، د دې دریو ډولونو تعریفونه ئې کړي دي او ورسره ئې مثالونه هم ورکړي دي، دغسې یو بل وېش ذکر کوي چې په هغه کښې فکاهي کیسې په کیسو کښې نهٔ دي ګڼل شوې بلکې وایي چې د دهٔ په خیال کیسې باید په دوو برخو ووېشل شي، چې ځینې غیر واقعي یعنې د رښتیا ګمان وربانديې نهٔ شي کېدے او ځینې غیر واقعي پېښنه خو نهٔ بیانوي مګر د الفاظو له لطافته نوے والے لري او خنده رویه بڼه لري. هم دغه ټولې کیسې چې دوست شینواري بیان کړي دي په اولس مجله کښې ئې نمونې موجودې دي. دلته د دوست شینواري له کتابه لومړني هغه څلور قسمونه را اخلو چې په لومړي وار ئې ذکر وشو او ورسره ګورو چې په اولس مجله کښې ئې هم نمونې موجودې دي. دغه څلور سره ډولونه کیسې را اخلو او ورسره د اولس مجلې کیسې موازنه کوو:

"د ژویو کیسې: دغه ډول کیسې په سمبولیک ډول د عبرت او پند دپاره وئیل کېږي. دغه کیسې غالباً په خبرو کښې د دلیل او شاهد په ډول د موضوع د ثبوت دپاره وئیل کېږي. ډېر ځله د داسې کیسو یوه برخه په ژبه کښې د متل حېثیت پیدا کوي. د ژویو په باب افسانې د فولکلوریستانو په عقیده له نورو افسانو څخه ډېرې لرغونې دي، انساني ټولنو د خپلې براختیا او تشکل په لومړیو مرحلو کښې د ژویو په باب عجیب عجیب خیالونه او تصورونه لرل، په دې باب بېل بېل روایتونه جوړېدل او دا ځکه چې انسان د یوه ټاکلي ژوي سره یو خاص ډول رابطه لرله، د دغې رابطې په رڼا کښې ئې د هغه په باب هم هغسې کیسه کوله چې به عنعنوي ډول له یوه څخه بل ته نقل کېده، به دغو کیسو کښې ژوي نه یوازې د انسان په څېر د افادې ژبه لري بلکې د انسان په څېر احساس، هیلې، غوښتنې او روحیاتي نړۍ لري. البته جوړوونکي او اورېدونکي د دې ډول کیسو په واقعیت او رښتینواله باور نه لري"(2).

دغه ډول کیسې د اولس مجلو د پاڼو زینت هم ګرځېدلې دي. چې ځینې کیسې ئې له ورو ورو ټوټو د متلونو او ژورو خبرو په ډول شتون لري او ځینې کیسې په بشپړ ډول روغې روغې راوړل شوي دي. چې همدغسې په کښې د انسانانو په څېر حیوانان هم هیلې، هم احساس او هم خپلې غوښتنې لري. د بېلګې د یوې کیسې نمونه وګورئ:

"بلکې ځاے په ځاے ئې ورسره ډغره وهلې ده، خیر دا لښکر که هر څۀ وو، واقعه ئې ژوندۍ ده، مخ ته دا څلور ځوانان وایي چې دا درست لښکر پر مونږ را مات شو، مونږ هم خپلې خپلې تورې په لاسو کښې ټینګې کړې، او مقابلې لره تیار ودرېدو، زمونږ او د لښکر په منځ کښې به لا څۀ فاصله وه، چې اچانك مو یوه بېواني شنه کوتره تر سترګو شوه چې زمونږ پر خوا په فضا کښې په یو تېز رفتارۍ را ایله وه، څنګه چې و مونږ ته را ورسېده نو زمونږ پر سرو باندې ئې پاس په هوا کښې ګرځېدل شروع کړل، دوي وایي چې مونږ دا کوتره یو غیبي امداد وسنجولو ولې چې دغه وخت زمونږ په مټو کښې بېخي زیات زور پیدا شو، زمونږ د تورې هر وار به داسې وار ؤ چې څوك به ئې مخ ته راغلو نو هغه ځاے به ئې شو... دا ځوانان دا هم وایي چې هغه شنه کوتره لا هغسې زمونږ پر سرو باندې ګرځېده، مګر اوس په هغسې جوش کښې نۀ وه او نۀ ئې هغسې په دائرې کښې الوت کولو. بلکې اوس هغه زمونږ په تګ ورو ورو او ډېره خوشحاله غوندې په هوا کښې زمونږ پر سرو باندې الوته"(3).

دغسې دوېم ډول کیسې دوست شینواري هغه کیسې ګڼلې دي چې په کښې د جادوګرو په ډول کردارونه خپله ذمه واري ترسره کوي. دغسې کیسې هم په اولس مجله کښې په زیات شمېر موجودې دي چې کردارونه ئې جادوګران که څه هم د نارینه یا ښځیه په شکل کښې راغلي وي همدغه کردارونه خپله وظیفه ترسره کوي. لکه:

"د جادوګرۍ کیسې: دغه کیسې مونږ ته د ډېرو لرغونو ولسونو عقیدوي خواوې را ښیي چې د خپلو قبیلوي روحاني او نورو مشرانو به خارق العاده قوتونو ئې لرلې، دغو مشرانو د خپلو خلګو په عقیده کولے شول چې د الوتونکو په څېر د جادو په وزرونو، د باد، د موسلې په شا، د دېوانو او ښاپېریانو په اوږو والوځي. د ژویو د افسانو سره د جادوګرۍ د افسانو یو توپیر دا دی چې د جادوګرۍ او طلسم د افسانو ویونکي او اورېدونکي د هغو په رښتینواله او واقعیت عقیده درلوده خو د ژویو د افسانو په باب دې عقیدې وجود نه درلود، بله دا چې د ژویو کیسې غالباً په سمبولیک ډول وړاندې کېږي خو د جادوګرۍ کیسې سمبولیکه بڼه نه لري"(4).

هغه کیسې چې کردارونه ئې روحاني مشران یا نور خیالي مخلوق وي هم په اولس مجله کښې ډېرې نمونې لري، چې یو روحاني مشر او هغه هم داسې مشر چې ټول پښتانۀ په دې متفق دي چې

یا خو یو مخ فرضي شخصیت دے او یا که په خارج کښې وي هم نو د هغهٔ له کیسو معلومېږي چې د ولي درجې ته نهٔ دے رسېدلے مګر بیا هم داسې ناویاتې خبرې کوي چې عقل ئې نهٔ مني، هغه شخصیت د ملا نصر الدین په نامهٔ مشهور دے او د دهٔ په اړه په اولس مجله کښې یوه لنډه کیسه راغلې ده چې دلته ئې وړه نمونه ستاسي مخ ته وړاندې کوم:

"ملا صاحب چونکې په علم نجوم کښې هم څهٔ لاس لرلو، نو ځکه د خلقو زائچه به ئې هم معلوموله نو د یو سړي د زایچه ایستلو وروسته ئې ووئیل، دلته ستا ستورے نن سبا په برج ګوسفند کښې دے، سړے حیران شو، وئیل ئې ګوسفند؟ ملا صاحب ووئیل: هو، جي ګوسفند ـ سړي ورته ووئیل چې د دوولسو برجونو نوم خو مي اورېدلے دے، دا دیارلسم بیا کوم یو دے؟ ـ ملا صاحب ورته ووئیل چې نالایقه علم ترقي کوي، دا دیارلسم برج د جدید دور د تلاش نتیجه ده، دا هغه برج دے چې دوولس واړه برجه ترې تاوېږي او برج ګوسفند په خپله د عرش خوا کښې تاوېږي را تاوېږي، په دې برج کښې د ځینو منحوسه ستورو ګردش هم شته، چې په هغو کښې یو ستا ستورے دے، په دې اورېدو هغه سړے ډېر وار خطا شو او په زنګېدو شو"(5) ـ

ماجرا لټوونکو افسانې: دریم ډول د ماجرا لټوونکو افسانو په نامه کیسې ذکر شوې دي چې کړهٔ وړهٔ ئې دوست شینواري داسې ښیلي دي چې:

"د دغو کیسو اتلان حیرانونکي سفرونه کوي ـ د فوق العاده ستونزو او سختیو زغم او تحمل لري ـ همېشه بری د دوي په برخه وي، په مینه او عشق کښې عجیب موفقیتونه د دوي په برخه وي او داسې نور ـ خو دا ټول د خپل عقل په لارښوونه او تدبیر، د مشکلاتو د ګاللو، د بدني او روحي قوت او سبک په برکت وي، نه د سحر او جادو په زور ـ د دغسې کیسو تاریخ د جادوګرۍ له کیسو وروسته دی او نسبتاً ریښتونوالي ته نژدې دي"(6) ـ

ماجرا لټوونکې کیسې د اولس په بېلا بېلو مجلو کښې په رومانوي داستانونو کښې موجودې دي او همدغسې وي چې د رومانوي کیسو اتلان فوق العادة ستونزې زغمي او له سختیو سره مخامخ وي او په پاے کښې برے هم د دوي په برخه وي، د نمونې دپاره مونږ د جلات خان او شمایلې وړاندې کولے شو چې جلات خان د شمایلې د ګټلو دپاره کومې ستونزې پر ځان وړي او په کومو لارو د شمایلې دپاره زمینه برابروي او شمایله ګټي ـ په دې اړه وړومبے د ملي هینداري له پاڼو نمونې وړاندې کوم کومې چې جلات خان ته پېښې وې:

"(1) د اوسپنې کونده به د لرګي په تبر ماتوي ـ (2) د شمایلې ژړا غوا چې ښکر ئې په الماسو کښې نیولي دي دا به لوشي ـ (3) دغه غوا چې ولوشي شودې به ئې درې واړه په ځغاسته وبام ته خېژوي ـ (5) زمرے به راولئ، د باچا له زمري سره به ئې جنګوي که ئې دا زمرے مات نهٔ کړ هم ئې

بايلوله. (6) د شمايلې د بنګلې لاړ به پيدا کوي چې يعني د کومې خوا د دې د ناستې ځاے ته لاړ ورځي"(7).

دغه کيسه د اولس مجلې په پاڼو کښې هم راغلې ده چې له پورتنيو شپږو شرطونو څخه ئې يو شرط را اخستے دے هغه ئې هم له څۀ ترميم سره راوړے دے. خو بيا هم جلات خان په کښې مافوق الفطرت کار کوي او شمايله ګټي لکه:

"اخير تر ټولو کشر وروړ د ملا فقير محمد په مدد او د شاهي زرګر مهمندي په ښوولو لاړو پټ په پټه ځان د محبوبې تر ځايه ورسوي، هلته محبوبه جلات خان ته ووايي چې سهار نغاره وغږوي او په کړکېچنو دي را ګډ شي او په وړومبني پېچ به دا ورته ولاړه وي، په دا سبا جلات خان نغاره وغږوله او په پېچونو ورګډ شو محبوبه ورته ولاړه وه او دا شان دواړه مينان سره يو ځاے شوۀ"(8).

د اولس مجلې په دغه پورتنۍ حواله کښې عبد الرحمٰن غور دا نکل ټول مسخ کړے دے او کردارونه ئې سره اړولي را اړولي دي، د جلات خان او د شمايلې د مينې داستان ئې هم ډېر په لنډ ډول وړاندې کړے دے، خو بيا هم هغه د ملي هيندارې د نکل غوندې وروستے شرط ئې را اخستے دے او مونږ له دغې وړې نمونې د ماجرا لټوونکې کيسې څرکونه وينو.

فکاهي کيسې: دا کيسې د ټولې نړۍ د اولسونو په اولسي ادب کښې ستر ځاے لري، دوي غالباً د روزنې، استدلال او عبرت خواوې لري. په هغو اخلاقي، روحياتي او نورو نيمګړتياوو ملنډې او تمسخر کوي چې بايد له منځه يووړل شي لکه دروغ وئيل، تنبلي، بخل، حماقت، عياشي او نور... فکاهي کيسې غالباً په نژدې ژبو او ګاونډيو اولسونو کښې په نژدې متحد المال شکل موجودې وي، او کله يوۀ او کله بل خاص شخصيت ته ئې نسبت کېږي. لکه ملا نصر الدين، ملا دو پيازه، بېربل او نور، د فکاهي کيسو اتلان او پېښې رياليستيک خصوصيت لري او اورېدونکي د هغو رښتينوالے له امکان نه لرې نۀ بولي"(9).

د فکاهي کيسو له زمرې څخه مونږ د ملا نصر الدين د کيسې نمونه وړاندې کوے شو چې په اولس مجله کښې ذکر شوې ده، او دا کيسه هم د فکاهي کيسو غوندې رښتينولي ته نژدې ده لکه:

" ملا صاحب چونکې په علم نجوم کښې هم څۀ لاس لرلو، نو ځکه د خلقو زائچه به ئې هم معلوموله نو د يو سړي د زايچه ايستلو وروسته ئې ووئيل، دلته ستا ستورے نن سبا په برج ګوسفند کښې دے، سړے حيران شو، وئيل ئې ګوسفند؟ ملا صاحب ووئيل: هو، جي ګوسفند. سړي ورته ووئيل چې د دوولسو برجونو نوم خو مې اورېدلے دے، دا ديارلسم بيا کوم يو دے؟. ملا صاحب ورته ووئيل چې نالايقه علم ترقي کوي، دا ديارلسم برج د جديد دور د تلاش نتيجه ده، دا هغه برج دے چې دوولس واړه برجه ترې تاوېږي او برج ګوسفند په خپله د عرش خوا کښې

تاوېږي را تاوېږي، په دې برج کښې د ځينو منحوسه ستورو ګردش هم شته، چې په هغو کښې يو ستا ستورے دے، په دې اورېدو هغه سړے ډېر وار خطا شو او په زنګېدو شو"(10).

د اولس په بېلا بېلو ګڼو کښې له پورتنيو کيسو پرته د جديد داستاني ادب نمونې هم د ناول په بڼه کښې شاملې دي چې قسط وار چاپ شوې دي او هم ډرامې شاملې دي چې ځينې وړې او ځينې غټې دي وړې په يوه قسط کښې چاپ دي او اوږدې په بېلا بېلو قسطونو کښې چاپ دي، له دې پرته تر يوۀ سرليك "هېر به مې نۀ شې" لاندې هم په لسګونو رېښتونې کيسې موجودې دي چې ليکوالو د خاطرو په توګه وړاندې کړې دي . په دې کيسو کښې ځينې داسې کيسې شته چې هغه جلا د روغو افسانو غوندې حېثيت لري يا د ځينو ناولونو او ډرامو دپاره د پلاټ کار ورکولے شي . د نوو محققينو دپاره پکار دے چې دغه کيسې را ټولې کړي او په يو ځاے ئې په کتابي بڼه کښې چاپ کړي. له دې سره د جديد داستاني ادب مشهور صنف افسانې هم ببخي ډېر چاپ شوې دي چې شمېر ئې 131 ته رسېږي. په دې کښې ځينې داسې افسانې شته چې له اولس پرته بيا بل ځاے په کتابي بڼه کښې نۀ دي چاپ شوې او ځينې د افسانو په بېلا بېلو کتابونو کښې چاپ شوې هم دي . داسې ډېرې افسانې د اولس مجلې په پاڼو کښې شاملې دي چې که هغه ټولې يو ځاے شي نو د څو ليکوالانو روغ روغ د افسانو کتابونه ځينې جوړېږي، دلته د ډرامو، ناولونو او افسانو له نمونو ورکولو پرته يوازې د افسانو شمېر او د افسانو د ليکوالانو نومونه ستاسې مخې ته وړاندې کوم خو تر دې له مخه چې د وړومبې افسانې او ناول په اړه کومې نوې څېړنې ادبي ميدان ته راغلي دي . د هغو په اړه لږ معلومات وړاندې کوم . هغه دا چې دا خبره مشهوره وه چې د پښتو لومړے طبع زاد ناول د راحت زاخيلي ماه رخي ناول دے، خو نوې څېړنه منځ ته راغلې ده چې د پښتو لومړے ناول ئې د نور محمد تره کي ناول ګڼلے دے او ليکي چې:

"د کال 1940ء پورې په پښتو کښې چا دې اړخ ته توجه و نۀ کړه او نور محمد تره کي ته دا توفيق نصيب شو چې په خپله ژبه کښې د اولس د اصلاح دپاره د پښتنو د ماحول سره سم ناول وليکي، او هم دغه د پښتو ړومبے طبع زاد ناول ۀ [بيا نورا] نور محمد تره کي پخپله پنځۀ ناولونه وليکل"(11).

محقق ليکلي دي چې لومړے ناول نور محمد تره کي ليکلے دے، د راحت زاخيلي د ناول په اړه ئې هيڅ نۀ دي وئيلي، ښۀ به دا وائ چې محقق د راحت زاخيلي ناول بنيادی لومړی خښته د دلايلو په زور ښورولې وائ او بيا ئې د لومړي ناول لنګوټه نور محمد تره کي ته ور پر سر کړې وائ . د راحت زاخيلي په لومړے ناول کښې به ځينې فني خاميانې حتماً لري خو د ناول له قطاره ئې ايستل راته سم نۀ ښکاري او که مونږ ناول د ټولو جزئياتو په تالۀ تلل غواړو بيا خو تر 1970 شا و خوا پورې هيڅ داسې ناول مخې ته نۀ راځي چې څوك دې ورته ناول ووايي ځکه چې:

*"ناول پشتوادب میں سرے سے تھے ہی نہیں یا اگر تھے تو داستانوں کی صورت میں اور وہ بھی معیار کے اعتبار سے پست، اس میدان میں سب سے پہلے سید راحت زاخیلی نے "نتیجہ عشق" نامی ناول لکھ کر خانہ پوری تو کر دی تھی تاہم اکثر نقادوں کے نزدیک اس کا ناول ہونا ہی زیر بحث رہا"*(12).

د ایوب صابر غونډې ځيرك محقق او نقاد هم چې د پښتو د ناول تعریف کوي نو په یوه جمله کښې ټول ناول فارغ کړي او د ناول له زمرې ئې وباسي ـ اوس دا خبره په پام کښې نیول ضروري دي چې د ناول اصل تعریف څنګه په کار دے ـ که د ځینو جزئي کمزوریانو له کبله ټول ناول مسترد کېدے شي بیا خو تراوسه پورې په هر لحاظ پوره معیاري ناول لا د پښتو ادب میدان ته نۀ دے راغلے ـ

د ناول غونډې له دې اوږده بحث وروسته یوه د پښتو افسانه هم ده چې د تاریخي سفر په جریان کښې نوې څېړنې وړاندې کېږي، یو وخت به د افسانې پیل د لړم پیرنګي له یوۀ غیر اخلاقي او غیر ادبي قیصې کېدے، وروسته محققینو دا خبره رد کړه چې د لړم پیرنګي دغه د یوۀ مجلس په روداد د افسانې په تعریف نۀ صادقېږي، ځینې محققین ئې د ګل او صنوبر خاکه بولي او ځینې ئې د لنډې قیصې مقدماتي او ابتدئي بېلګه هم نۀ مني، ورسره د راحت زاخیلي شلېدلې پڼه هم افسانه نۀ مني، او وایي چې کونډه جینۍ لومړۍ لنډه کیسه ده ـ لکه:

"زلمے محقق ښاغلے اسیر منګل په خپل کتاب "پشتو افسانے کے سو سال" کښې چرته هم د "شلېدلې پڼه" تذکره د پښتو د وړومبۍ افسانې نۀ کوي، دا ښاغلے هم "کونډه جینۍ" د راحت صاحب وړومبۍ افسانه ګڼي او د اشاعت کال ئې 1917ء بیانوي"(13) ـ

د پښتو د لومړۍ پښتو افسانې په اړه محققین نور هم یوه فیصله کُن نتیجه ورکوي او د راحت زاخیلي له مشهورې افسانې "کونډه جینۍ" سره هم اختلاف کوي او وایي:

"چې کله د ملکې وکټوریا پنځوس کلیزه ډائمنډ یا ګولډ جوبلي په کال 1897ء ولمانځل شوه نو د برطانئې ایمپراطور د ټول برصغیر د لسانیاتي څېړنې دپاره جارج ګریرسن وټاکلے، د هغۀ د لینګوئسټك سروې آف انډیا په نامه دا لسانیاتي سروې لسم جلد پښتو ته سپارلے شوے دے په دې کښې د پښتو د هرې لهجې یوه نمونه او ګرائمر او د لهجو فرق په کښې بیان شوے دے ـ د کوټې څخه اې جي جي د یوۀ منشي او عالم په ذریعه د پښین او کندهار د سیمې د لهجې قصه ور استولې وه ـ جارج ګریرسن په خپل کتاب کښې لیکلې ده، لیکن هغوئ ضمناً د ژبې د لهجو په لساني بحث کښې د لوریمر د واقعې هم یادونه کړې ده خو په څلرویشتو لهجو کښې ئې هغه ته ځاے نۀ دے ورکړے"(14) ـ

له دې معلومېږي چې د جارج ګریرسن قیصه په تاریخي حواله تر ټولو لومړۍ قیصه ده، خو محققینو ورته پاملرنه نۀ ده کړې، اوس دا کتل په کار دي چې ایا دغه د جارج ګریرسن قیصه د افسانې په تعریف پوره خیژي که هسې د اولسي داستانونو او نکلونو غونډې نمونه ده ـ د دغې قیصې اصلي شکل ته به ځیر شو:

"امیر صاحب! اوربدلي مي دي چې امیر دوست محمد خان یوه پلا په ژمي کښې ترکستان ته تلے چې هندوکش ته ورسېدۀ، شپه وه او واوره وربدله، د پلټنې د سپاهیانو بار اوښ غوځار شوے ؤ، بار ئې لوبدلے ؤ، سپاهیانو هغه بار په بېرته (په وار وار) تاړۀ او په اوښ ئې باندې کاوۀ، په هغه وخت کښې یوه پلټنې د امیر دوست محمد خان دپاره ټر (بې ساخته) ښکنځل وکړ، امیر دوست محمد خان د دوي له څنګه تېربدۀ دوي نۀ لیدۀ، هغه ښکنځل دۀ او وزیر محمد اکبر د دۀ زوئ واوربده، اخیر خپل غوږونه کانۀ واچول او وزیر محمد اکبر خان و نۀ زغمله غږ ئې کړ چې دا کوم سپي وغپل؟.

د وزیر غږ لکه تالنده (تنا) له نورو غږو جدا ؤ، هر چا پېژاندۀ، سپاهیانو چې هغه ډېر لوړ غږ واوربدۀ د ټولو رنګ والوت او خولې ئې ورله ورغلې، امیر دوست محمد جلو ونیو او ناره ئې کړه، محمد اکبره! هوش کوه چې بل غږ دي تر خولۀ و نۀ وځي، د دوي حال وګوره په ځاے د دې چې د دوي له ښکنځلو خفه شې ښایي چې په دوي زړۀ وسوځېږي، که تۀ د دوي په ځاے وے نو به د دوي حال ښۀ درته معلوم شوے وے، امیر دا ووئیل تېر شو، وزیر هم چُپ کړ، په پلار پسې را راهي شو، سپاهیانو امیر هم په غږ باندې وپېژند، هغه پوچ خولي سپاهي ناره کړه.

آ، امیر صاحبه! تا زۀ نۀ وپېژندلم.

زما نوم خاټول دے، د مروند زوي یم، اندړ قوم د بخښي له کالۀ یم، د بخښي په پلټن کښې د پنځمې ټولې دېرشم ځوان یم، ته ما ښۀ وپېژنه او واوره که خداې وخت راوست او زۀ ستا په مخکښې مړ نۀ شوم، زۀ به حرامي یم.

پس له څو کالو، په یوه مقدمه کښې چې ډېره سخته وه، د دښمن د خوا یو غښتلے غټ مشر و امیر ته وروړاندې شو، توره ئې وکښله، پورته ئې کړه، غوښت ئې چې په امیر باندې وار وکړي، هغه ښاغلے سپاهي هلته نژدې ؤ، په تلوار ئې ځان د تورې او امیر تر منځ کړ، هغه توره چې په امیر پورته شوې وه، هغه په دۀ ولګېده، دۀ خندل او ناره ئې کړه چې خدایه! تا له دې شکر وي چې د هندوکش د شپې پوروړے مړ نۀ شوم، دا ئې ووئیل او د امیر د اس په پښو کښې ولوېدۀ، ساه ئې وختله"(15).

د افسانې په ابتدائي وخت کښې که څۀ هم په قصو کښې د ډېرو کمزوریانو سره هم داسې قصې د افسانې په چوکاټ کښې شمېرل کېدے شوې خو د دې قصې هر جز چې د افسانې له لازمي جزئیاتو سره وکتل شي نو د هر څۀ خیال په کښې ساتل شوے دے، لکه د قیصې پیل، پلاټ، کردارونه، منظرکشي، او اختتام ئې هو بهو د افسانې غوندې او خصوصاً د اوسني وخت د فني افسانو په تول پوره خیزي او مونږ وئیلے شو چې د نوو څېړنو له مخې هم دغه قیصه د پښتو په لومړۍ افسانه ده، او د روان او را روان وخت محققینو نه هیله کېدے شي چې بیا د ملګرتیا تر عقیدت تېر شي او د تحقیقي ذمه وارۍ حق پر ځاے کړي. دا خو د لومړي ناول او افسانې په اړه څېړنیزه نوې څېړنه وه اوس دلته د اولس مجلې د افسانو لنډ فهرست ستاسو مخې ته ږدم کومې چې د اولس مجلې د پاڼو زینت وې.

اسماعيل شاه: سرۀ بنګړي* ولور. افضل خان: د ازل کربښې. الفت نسيم مېرمن: خودکشي . انور سرحدي: د مېوې ټوکره* او زولنې ماتې شوې. اېم رضا همداني: ژوند داسې. اېم کې شاهد: د پلار بدل* مغرور * نيمګړې مينه * ځوانيمرګ .

پکراج بېګم: دوه لېونې.

تاج رحيم: تربورے * رونه.

ثروت جهان کوکب: وی زما قسمته *شهيد * دا هم د شهيد مور ده* د حقيقت دنيا * د لاله ګل* کاش که هغه زۀ وم.

حاجي محمد مشوانړے: شل زره* غريځ زمرے* سوے غار * عبرت* د محبوب په ياد کښې.

خيال مير خيالي: نرے رنځ * تربور.

درمحمد کاسے: ډيوې * د ځان غوښې.

رينواز مائل: يادونه* وطن* څوك دوست څوك دښمن* لفتين* ستړے يم. رحيم شاه رحيم: انتظار.

زيتون بانو: ارمان * سوغات * زيتون بانو * لټون.

ساحر اپرېدے: او تکبر شکست وخوړ. سلطان محمد صابر: په زړو کنډوالو کښې د ماشوم ژړا. سلطانه شميم: قربان * انسانيت. سهيل جعفر: درېيم مړے. سيد افضل: د بېديا ګل. سيد خالق داد اميد: پښېماني * زېرے * فري. سيد عابد شاه عابد: سپوږمۍ * د ګودر په غاړه. سيد عنايت الله شاه: يوه قطره وينه نۀ وه. سيده رفعت نذير: احساس. سيده ناز جاوېد: حق هو. سيف الرحمٰن سيد: ارمانونه. سېلانے: غيرت.

شاه افضل: دنګې څوکې * ماته ملا هسکه پګړۍ * سترګې. شاه وزير حسين الياس: دا څوك ؤ؟. شهلا تخت بهائي: يقين.

صاحبزاده کليم الله: پرې شوې ګلان.

ظفر مرزا: د واورې شپه.

عالم زيب خټك: شهزاده خان. عالم شېر: بې ګناه. عبدالخالق کاسے: د ملګري پالنه. عبدالرحمٰن بېتاب: احساس. عبدالرحيم مجذوب: د سپرلي سپوږمۍ. عبدالفتح پښتون: د کالۀ مشر. عبدالکافي اديب: دېوال * هے کور مي وران شو * اخيري ارمان * د تېرې شپې رڼا * (له سرائيکي ژبې) افسانه. عبدالله جان اسير: يو خوب * دې ته به څۀ وائې. عبدالله جان مغموم: راشه په سترګو کښې مي خوب شه * لېونے * تربور * ګل ځانګه ببو * مرجانه ببو * کشمير کاکا. عزيز مظاهري: ناوياته زوئ. عمرګل عسکر: تشه خونه * څاڅکے سمندر.

فاروق سرور: پیسه * روغبړ * ترې تنده * اواز ـ فاروق شاه سمايلزے: د ماشوم بورجل * د ګل غوښتنه * خواخوږے ليکوال (ملاقات) ـ د رښا مېرمن * د توت ونه * د پسرلي پېغله * نرګس * روښانه ډيوه * کرلے ښار * توتکۍ ـ بودها * د غرۀ ګل * ازانګه ـ

فضل غني غني: وروستۍ فيصله ـ فضل قادر مهمند: جنګ ـ فهميده شاهين: سکون که عنقا * (قيصه غوندې) د بوډۍ ټال* دوست او دښمن* لېونے ـ

ماسټر اسماعيل قمر: پيريان * بدل ـ محمد اعظم خان اعظم: څلور روپۍ ـ محمد زمان خان اڅکزے: سپوږمۍ * اخيري ستن ـ محمد علي بازے: ولور مات شو ـ محمد نبي شېرزاده: سپوږمۍ * هوسۍ* (وړه د افسانچې غوندې قيصه ده چې د نثري نظم تنده هم ورباندې ماتېږي) ـ محمد يعقوب خان يوسفزے: بدل ـ مرزا خان پېڅے: تاج محل وايي * (په جديد غزل) شوګيرې * ړنده ګولۍ * پېزوان ـ مقدس خان معصوم: د اوښکو قېمت ـ منور رضا: ړوند شاهکار ـ مولوي عبدالخالق تارڼ: د مينې تور ـ

نذر محمد شهاب: سوے سکور* نظر محمد پانيزے: دا څوك ده؟ * پُل ټپال * پروسيجر * ماشومه * د بنګړو شرنګ ـ نعيم ازاد: زلوچه ـ نواب ګل: څيرې ګرېوان ـ

ولي محمد ولي: ازانګه * رګونه* قصه ـ

**REPERENCESS:**

(1) Shinearai, Dost Muammad Dost, Da Pashto da Ulasi Adablare, Danish Khparandoya Tolana Pishawar, san e eshaet 2006, Page42 -

(2) Abid, Page42, 43 -

(3) Shoq, Afzal, Hazrat bibi hiro and, Mashmola monthly Ulas Quetta, Islamia Pris Quetta, November/ December, 1982, Page 88 -

(4) Shinearai, Dost Muammad Dost, Da Pashto da Ulasi Adablare, Page43 -

(5) Afghani, Mahir, Mazahiye, Mashmola monthly Ulas Quetta, Islamia Pris Quetta, October/ November 1970, Page122 -

(6) Shinearai, Dost Muammad Dost, Da Pashto da Ulasi Adablare, Page44

(7) Nori, Muhammad Gul, Mili Haindara, Sadaqat Khparandoya Tolana Qandahar, Afghanistan, 2012, Page40 -

(8) Ghor, Abdul rehman, Elaqayi Romanona, Mashmola monthly Ulas Quetta, Islamia Pris Quetta, October/ November 1969, Page111 -

(9) Shinearai, Dost Muammad Dost, Da Pashto da Ulasi Adablare, Page44 -

(10) Afghani, Mahir, Mazahiye, Mashmola monthly Ulas Quetta, Islamia Pris Quetta, October/ November 1970, Page122 -

(11) Rashid Ahmad, Pashto Navel Sehmahi Mujalla Lekane Quetta, Pashto Acadmy Quetta, July – December, 2015, Page186 -

(12) Sabir, Ayob, Pashto Jadid Adab, Shahin Barqi Praic Pishawar, 1974, page196, 197 -

(13) Hasrat, Zubair, Da Rahat Zakhili Shlaidale Panha Takal ka Afsana, Mashmola Shashmahi Taktoo Mujalla, Pashto sanga Balochistan University Quetta, January – June 2009, Page56 -

(14) Baryalai, Abdul Karim, Da Pashto Lomrhy Afsana pa Pishin, Qamdahar ka… – Mashmola shashmahi Mujalla Takatoo, Pashto sanga Balochistan University Quetta, January – June 2012, page18, 19 -